د اسلامي بانکوالۍ او مالي خدمتونو آمریت
آمریت بانکداری وخدمات مالی اسلامی

DA AFGHANISTAN BANK
د افغانستان بانک

شماره: ........................ ۱۳۶۴۸ – ۱۲۳۲۲ / ۱۲۳۳۳ / ۱۲۲۹۹
تاریخ: ۴/ ۱۲/ ۱۴۰۰

**د افغانستان ټولو متعارفو جواز لرونکو بانکونو او د بهرنیو بانکونو د څانګو د قدر وړ ریاست ته!**

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ ٱللَّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ

**موضوع: د متعارفو بانکونو څخه اسلامي بانکوالۍ ته د تحویل طرحه**

**ماهیت: متحدالمال**

له ډیر درناوي وروسته،

د ا.ا.ا د قدر وړ کابینې د ۱۵ ګڼې ۱۴۰۰/۰۹/۲۹ نیټې مصوبې په اساس او په دافغانستان بانک کې د بانکونو د رئیسانو سره اسلامي بانکوالۍ ته د تحویل په اړه د سلواغې د ۱۷ نیټې د ۱۴۰۰ کال د جلسې په تعقیب د ټولو متعارفو بانکونو څخه غوښتنه کیږي چې د دوو اونیو په موده کې دې اسلامي بانکولۍ ته د تحویل په اړه هر بانک په جلا توګه یوه جامع او هر اړخیزه طرحه تهیه او دافغانستان بانک سره شریکه کړي.

هر بانک باید په نوموړې طرحه کې د نورو اړوندو مسایلو تر څنګ لاندې ټکي په نظر کې ونیسي:

- د بانک ټولې سودې قرضې او د سود مجموعي مقدار
- اسلامي تمویلاتو ته د سودي قرضو د اړولو منهج او لاره/ میتود
- د صعب الحصول پورونو د لاسته راوړلو لپاره منهج او لاره/ میتود
- د بانکي تضميناتو د تحویل منهج
- د معلوماتي تکنالوژۍ د سیستم اړول او تهیه کول
- د پالسیو او محصولاتو تهیه کول
- د بانک د کارکوونکو لپاره د مسلکي او تخنیکي روزنې او ټرینګ پروګرامونه
- اسلامي بانکولۍ ته د تحویل لپاره اړین وخت او موده
- د تحویل اثرات د نورو بهرنیو بانکونو سره د بانک په میانجې حسابونو او نورو بانکي ارتباطاتو

۱۴۰۰/۱۲/۳

- د تحویل نه وروسته د بانک د تشکیلاتو جوړښت
- د متعارفې بانکولی څخه اسلامي بانکولی ته د تحویل او اړولو لګښتونه
- د تحویل اړوند نورې ستونزې
- د ستونزو د حل لارې

هر متعارف بانک مکلف دي چې د افغانستان بانک له تصویب او تائید وروسته او د افغانستان بانک له قوانینو او مقرراتو څخه په پیروي د خپلې وړاندیز شوې طرحې په اساس له متعارفې بانکولی څخه اسلامي بانکولی ته د تحویل لپاره اړین ګامونه پوره کړي.

د افغانستان بانک ستاسو د لا زیاتو بریاوو غوښتونکی دی.

په درنښت

عبدالقاهر (حاجي ادریس)
د افغانستان بانک د ټولو ریاست سرپرست

کاپی:
د افغانستان د علومو اکاډمی د اسلامي بانکولی د څیړنې مرکز
د بانکي چارو د څار لوی آمریت
د افغانستان د بانکونو اتحادیه(ABA)
بانک ملی افغان
نوی کابل بانک
د افغانستان نړیوال بانک(AIB)
میوند بانک
افغان یونایټید بانک(AUB)
غضنفر بانک
د کوچنیو قرضو لومړی بانک
پښتنې بانک
عزیزي بانک
نیشنل بانک اف پاکستان
بانک الفلاح لمیټد

۱۴۰۰/۱۲/۲